# رسنيزه اعلاميه

## د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) په لویه څارنوالۍ کې د اداري فساد د زیان منني په اړه ځانګړی راپور خپروي

**کابل، افغانستان، د چنګاښ ۲۸، ۱۳۹۶:** د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) په پام کې لري چې "په لویه څارنوالۍ کې د اداري فساد د زیان منني ځانګړی راپور" د یوه رسنیز کنفرانس په ترځ کې خپور کړي.

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او اروزنې کمیټه (MEC) منې چې لوی څارنوال، څارنپوه محمد فرید حمیدي، د پخوانیو کمیانو د حل لپاره د یو شمیر مثبتو بدلونونو پلې کول پیل کړي دي چې د اداري فساد له سنګینو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز جوړول يې یوه نمونه ده خو په لویه څارنوالۍ د موثریت او روڼتیا لپاره لا ډیرو کارونو ته اړتیا ده.

د څارنې او ارزونې کمیټې ځانګړي راپور په لویه څارنوالۍ کې د زیان منني یو شمیر ساحې په ګوته کړې دي. د ځانګړی راپور د نتایجو له مخې بدې اخیستل او په چارو کې لاسوهنه په لویه څارنوالۍ محسوس دي خو د پخوا په پرتله یې بدلون راغلی دی. راپور همدارنګه ښیي چې د مطلوبو همکاریو د نشتون له امله، د پولیسو او څارنوالۍ تر منځ د تفاهم لیک د لاسلیک سره سره، ګډه همکاري له ستونزو سره مخ ده. راپور، لویه څارنوالۍ ته په راجع شوو قضیو او د لسوالیو تر منځ د قضیو په لیږد کې د روڼتیا د کموالي په اړه اندیښنه څرګندوي. دا پداسې حال کې ده چې د لویې څارنوالۍ نوې مدیریت د ستونزې د حل لپاره یو میکانیزم په پام کې نیولی چې تر ډیرې کچې يې ستونزه کمه کړې ده.

همدارنګه د قضیو د مدیریت اوسني نظام د قضیو د تعقیب بهیر له ستونزو سره مخ کړی دی چې په پایله کې یې د لویې څارنوالۍ او محکمو له خوا د وړاندې شویو قضیو د شمیرو تر منځ توپیر رامنځ ته کیږي. په همدې حال کې څارنوالان د وسایلو، ودانۍ او نورو تجهیزاتو له کمبود سره مخ دي او کله کله د قضیو د پلټنې وړتیا نه لري او د کمزورو شواهدو په اساس د دعوا صورت چمتو کوي. پر دې سربیره هغوی ځینې وختونه په محکمه کې موجود نه وي، له نیمګړو اسنادو سره قضیې په مخ بیایي او یا هم مبهمې ادعاوې کوي. ځینې پولیس او پلټونکي څارنوالان له پلټنې، توقیف او حبس څخه د بدو اخیستلو په موخه کار اخلي.

له بل پلوه پداسې حال کې چې د ګمارنې په پروسه کې د لوړپوړو چارواکو لاسوهنه شته خو د غیر قانوني مداخلو د کمولو لپاره لویه څارنوالۍ یو میکانیزم تر لاس لاندې لري.

"په لویه څارنوالۍ کې د اداري فساد د زیان منني ځانګړی راپور" د ۱۳۹۵ کال د تلې میاشت کې پیل شوې وه او معلومات په کابل او یو شمیر ولایتونو کې د لویې څارنوالۍ کارکوونکو، د قانون پلې کولو چارواکو، مدافع وکیلانو، ګټه اخیستونکو د حقوقي مرستو چمتو کوونکو، حقوقي ښوونکو او محبسونو سره له ۲۳۰ ډیرو مرکو څخه راټول شوي دي. د څارنې او ارزونې کمیټه د لویې څارنوالۍ په بیلا بیلو برخو لکه ګمارنو، د اجراءاتو مدیریت، همکارۍ او د قضیو مدیریت، پلټنه او د محکمو اجراءاتو، اداري اصلاحاتو، پلان جوړولو او بودیجې چمتو کولو په برخه کې ۵۱ سپارښتنې کړي دي تر څو واقعي اصلاحات رامنځته شي او اداري فساد په اساسي ډول کم کړي.

د نوي لوي څارنوال د ګمارنې راهیسې د هغه نوښتونه د داسې اصلاحاتو رامنځته کولو ته زمینه برابروي چې د لویې څارنوالۍ وړتیا لوړوي تر څو جرمونه په ګوته کړي او له اداري فساد سره مبارزه وکړي. د ۲۰۱۶ کال په اپریل میاشت کې د نوي څارنوال له ګمارل کیدو تر اوسه رامنځته شوو اصلاحاتو کې د لوړپوړو چارواکو بدلول، د مراجعه کوونکو

**Address:** Herati Mosque Street, Shahr e Naw
Kabul, Afghanistan
**Mobile:** 079 751 5871
**E-mail:** contact@mec.af

آدرس: کوچه مسجد هراتی ها، شهر نو
کابل، افغانستان
مبایل: ۰۷۹۷۵۱۵۸۷۱
ایمیل: contact@mec.af

ستونزې نيغ په نيغه اوريدل، د څارنوالانو تنخوا لوړول، د ولايتي سفرونو او په کابل کې د شکايتونو صندوقونو ايښودلو په ګډون د څارونې او ارزونې ميکانيزم پياوړي کول، د رشوت اخيستلو له امله له دندو د څارنوالانو او اداري کارکوونکو لرې کول، د ګمارنې د رقابتي پروسې له لارې د تکړه ښځينه څارنوالانو ګمارنه او له بيلا دولتي ادارو سره د همغږۍ او ارتباط د ښه والي په موخه تفاهم ليکونه لاسليک کول راځي. د څارنې او ارزونې کميټه د اداري فساد د زيان منني د برخو د تشخيص، يادو برخو کې د شته کميانو پوره کولو او د شوو وړانديزونو د پلي کولو څخه د څارنې له لارې د فساد په کمولو کې له لويې څارنوالۍ سره د مرستې لپاره چمتو ده.

**Address:** Herati Mosque Street, Shahr e Naw
Kabul, Afghanistan
**Mobile:** 079 751 5871
**E-mail:** contact@mec.af

**آدرس:** کوچه مسجد هراتی ها، شهر نو
کابل، افغانستان
**مبایل:** ۰۷۹۷۵۱۵۸۷۱
**ایمیل:** contact@mec.af